شتمني
SHTAMANI
اوونیزه

د افغانستان اسلامي امارت

نبي کريم ﷺ فرمايي:
د نړۍ په بهترینو نعمتونو کې تر نېکې ښځې بل غوره نعمت نسته. (ابن ماجه)
*نبي کريم ﷺ می فرماید:
در میان بهترین نعمت های دنیا، هیچ نعمتی بهتر از زن نیک نیست. (ابن ماجه)
( د ماليې وزارت د دعوت او ارشاد رياست، له لوري)

د ماليې وزارت

شنبه| د جمادي الثاني ۱۹-۱۴٤٦ل س/ د مرغومي ۱-۱٤۰۳ل ل/ د ډیسمبر ۲۱-۲۰۲٤ز/ځلورم کال / ۱۲٦ گڼه/ ٤ مخیزه ۱

## سرمقاله

### د اقتصادي پرمختګ درې کاله سترړیا

اقتصادي پرمختګ، اقتصادي ثبات، د افغانيو ارزښت ساتل، د نرخونو کنټرول، مالياتي معافيت د ګمرکونو عصري کول او ډیجیټلي حکومتولي په درې کلن امارت کې له ننګونو سره سره څو متحرک فکتورونه ول، چې صعود او وده ئې وکړه او د معتبرو نړیوالو مالي سازمانونو پام ئې ځان ته را اړولی او په کور دننه ئې له تعصب پرته هیله مندي زیاته کړې ده. په دې برخه کې په ځانګړې توګه نړیوال بانک هم خپل تحلیلي راپور خپور کړی او دغه ټکي ئې په ګوته کړی دئ. راپور زیاته کړې ده، چې په روان او تېر (۲۰۲۳-۲۰۲٤) کال کې که څه هم ننګوني تر سر پورته وې؛ خو اقتصادي پرمختګ (۲،۷٪) لوړ سوی دئ. په (۲۰۲۳) ز مالي کال کې د ناخالصو توکو تولید یا (GDP) هم را پورته سو او یوه زیاته فیصدي خسارات ئې جبران کړل. په (۲۰۲۳) ز کې (۱۷،٦) میلیارده افغانۍ د پراختیایي پروژو له پاره ځانګړې سوې دي، د قوشتېپې کانال ته (۵،۵) میلیارده، سړکونو ته (۱،۹) ملیارده او د افغان کډوالو له پاره (۱،۱) میلیارډ افغانۍ تخصیص سوې دي. همدارنګه دغه هیواد له فشارونو سره سره، د لومړنیو توکو قیمتونه ټیټ کړل او افغانۍ ئې ثابته وساتله او ورسره په (۲۰۲٤) کال کې د خوړو او توکو قیمتونه را ټیټ سول. په همدې دوو کلونو کې اسلامي امارت وکولای سول، چې خپل ټاکل سوي عوایدي هدف ته ځان ورسوي او عواید په شفاف ډول راټول کړي. که څه هم په همدې کلونو کې ننګوني زیاتي وې؛ خو د افغانستان سوداګرۍ ثبات وساته که څه واردات زیات ول، ولي د افغانۍ د ارزښت په ساتلو سره واردات ارزانه تمام سول. د افغانستان بانک له خوا د پیسو د ایستلو محدودیت لیري کېدو تر ډېره بریده حالت نرم ساتلی او په اقتصاد کې ئې مالي جریان ته زمینه مساعده کړې ده. په همدې کلونو کې د افغانستان ځینو بانکونو ګټه که څه هم لږ ده؛ خو بیا هم ګټه ئې کړې ده، چې (۳۵،۷۳۸) کسانو ته ئې کوچني پورونه ورکړي دي. د افغانستان په تړاو جوړ سوي راپور یوې نوي جالبي موضوع ته اشاره کړې ده، چې دوی د سټلایټي انځورونو په مټ ښوودلې ده، چې په ځینو ځایونو کې شپني ځراغونه (night-time lights) روښانه ښکاري او دا پر دې دلالت کوي، چې اقتصادي وضعیت ښه سوی، امنیت سته او خلک یا شرکتونه د شپې له مخې هم خپل کاروبار کوي. دغه شان د اسلامي امارت په راتګ سره صنعتي سیکټور (۲،٦٪)، تولیدي سیکټور (۱،۷٪) او خدماتي سیکټور، چې د افغانستان (٤۵) سلنه اقتصادي برخه ئې په واک کې ده (۲،۳٪) وده کړې ده. د دې ترڅنګ د زراعتي، صنعتي او خدماتي تولیداتو له مخې ټولیز اقتصاد په (۲۰۲۳ - ۲۰۲٤) کلونو کې (۲،۳٪) پرمختګ کړی دئ. اسلامي امارت د خپلي مالي پالیسۍ/ تګلاري په مرسته (۲۰۲٤) کال کې پر ځینو سیکټورونو مالیه کمه کړه؛ لکه: رستورانتونه، هوټلونه او پمپ سټېشنونه. د ډېرو په سکرو او ماشینرۍ باندي ئې هم تعرفه له (۵٪) څخه (۱٪) ته راکښته کړه، چې په دې کې ئې د خوراکي توکو د تعرفو د کمښت بېلابېل ارقام هم یاد کړي دي.

درنښت
اداره

## د بلخ، آقینې او کندوز په ګمرکونو کې د (۱۵) میلیونه افغانیو په ارزښت د لوړ تناژ تلي جوړي سوې

د ماليې وزارت د ګمرکونو لوی ریاست د (۱۳،٦) میلیونه افغانیو په ارزښت د بلخ ولایت د نائب اباد په ګمرک کې د وارداتي او صادراتي سوداګریزو توکو د وزن معلومولو له پاره دوې پایې د لوړ تناژ تلي او د آقینې په ګمرک کې د ورداتي توکو د وزن معلومولو له پاره یوه پایه د لوړ تناژ تله جوړه او ګټې اخیستني ته وسپارلې. یادي تلي، چې (۲۲) متره اوږدوالی او (۳) متره پلنوالی لري، په جوړېدو سره به ئې له اضافه وزن او د ملي عوایدو له ضایع کېدو څخه مخنیوی وسي. همدا رنګه د (۱،۴) میلیونه افغانیو په ارزښت د کندوز په ګمرک کې د وارداتي توکو له پاره یوه پایه د لوړ تناژ تله ترمیم او ګټې اخیستني ته وسپارل سوه. د یادوني وړ ده، چې د یادو تلو د جوړولو او ترمیم لګښت د ماليې وزارت له پراختیایي بودیجې څخه ورکول سوی او چارې ئې هم د افغاني شرکتونو له لوري بشپړې سوي دي.



## د نیمروز او سپین بولدک په ګمرکونو کې د(۱۹) میلیونه افغانیو په ارزښت د ارشیفونو جوړولو پروژې پیل سوې

د ماليې وزارت د ګمرکونو لوی ریاست د (۱۹،۲) میلیونه افغانیو په ارزښت د نیمروز او سپین بولدک په ګمرکونو کې د ارشیفونو د جوړولو پروژې پیل کړې. د یادو پروژو لګښت د ماليې وزارت له پراختیایي بودیجې څخه ورکول کېږي، چې چارې به ئې تر راتلونکو لسو میاشتو پوري بشپړي سي او ورسره به د ګمرکي سندونو د خوندي ساتلو په برخه کې ګڼې اسانتیاوي رامنځته سي. د یادوني وړ ده، چې د ماليې وزارت له لوري د هیواد د ګمرکونو د عصري کولو، د سوداګرو له پاره د اسانتیاوو رامنځته کولو او په هیواد کې د سوداګرۍ د لا ودې په موخه ګڼې ګمرکي پروژې پلي سوي دي او یو شمېر ئې د پلي کېدو په حال کې دي.



## د ننګرهار په ګمرک کې د (۸،۵) میلیونه افغانیو په ارزښت د جغل اچوني چاري پیل سوې



د ماليې وزارت د ګمرکونو لوی ریاست د څه باندي (۸،۵) میلیونه افغانیو په ارزښت، د ننګرهار ګمرک د موټرونو په تم ځای کې د جغل اچوني چاري پیل کړې. د دې پروژې له لاري به د ننګرهار په محصولي ګمرک کې د موټرونو په دوو لویو تم ځایونو کې په اساسي ډول جغل اچونه وسي او چاري به ئې تر راتلونکو درېیو میاشتو پوري بشپړي سي، چې په پلي کېدو سره به ئې موټر چلوونکو او د ګمرک کارکوونکو ته ګڼې اسانتیاوي برابري سي. د یادوني وړ ده، چې د ماليې وزارت له خپلي پراختیایي بودیجې څخه له دې وړاندي هم، په ګڼو ګمرکونو کې پراختیایي پروژې پلي کړې دي او ځیني ئې د پلي کېدو په حال کې دي.



د ګمرکونو او عوایدو معینیت د اړوندو ریاستونو ترمنځ د همغږۍ ناسته جوړه سوه

م ۲




د کورنۍ پلټنې لوی رئیس او ورسره مل پلاوي بامیان ولایت ته سفر وکړ

م ۲



تېره اوونۍ د هیواد په بېلابېلو ولایتونو کې په زیاته اندازه قاچاقي توکي نیول سوي دي

م ۲



د ماليې وزارت او نور تشخیصیه کلینیک تر منځ په(۵۰ ) سلنه تخفیف د طبي معایناتو هوکړه لیک لاسلیک سو

م ۲




کاربرد SWOT Analysis در مدیریت

م ۳




روسیه او اُزبکستان د ټرانس - افغان اورګاډي د پروژې په لومړنیو چارو پسې دي

م ٤

SHTAMANI
اوونیزه

# د ګمرکونو او عوایدو معینیت د اړوندو ریاستونو ترمنځ د همغږۍ ناسته جوړه سوه

د ګمرکونو او عوایدو معینیت د اړوندو ریاستونو ترمنځ د همغږۍ ناسته د ګمرکونو او عوایدو معین الحاج مفتي عبدالمتین سعید په مشرۍ د یاد معینیت د غونډو په تالار کې جوړه سوه.
په دې ناسته کې، چې د اړوندو ریاستونو مسئولینو ګډون کړی وو، په پیل کې د ګمرکونو او عوایدو معین ګډونوالو ته د ښه راغلاست ترڅنګ د چارو د لا ښه والي په موخه د ګمرکونو او عوایدو معینیت د ریاستونو ترمنځ د همغږۍ او همکارۍ په لا زیاتېدو ټینګار وکړ. نوموړي د یادو ریاستونو مسئولینو ته په مربوطه کاري برخو کې لازمي سپارښتني هم وکړې.
همدارنګه په دې ناسته کې د ولایتي او مرکزي ادارو تر منځ د همغږۍ په زیاتوالي، د هغو منفي تېلو پر برخلیک، چې اوسمهال د هیواد په یو شمېر ګمرکونو کې ولاړ دي، د شرکتونو د باقیاتو د تصفیې په موخه د ګمرکونو او مستوفیتونو تر منځ پر همغږۍ او همکارۍ او یو شمېر نورو موضوعاتو په اړه هر اړخیزي خبري وسوې او په اړه ئې لازمي پرېکړي ونیول سوې.
د دې تر څنګ په دې ناسته کې د نورم او سټنډرډ ملي اداري د لابراتوار کړنلاري د فیسونو او د کنټرول او کیفیت ریاست د عوایدو په اړه د ټاکل سویو کمېټو راپورونه هم واورېدل سول.
د یادوني وړ ده، چې د ګمرکونو او عوایدو معینیت د اړوندو ریاستونو ترمنځ د ګډو همکاریو د پیاوړتیا په موخه د همغږۍ ورته ناستي به په راتلونکي کي هم دوام ولري.



# د کورنۍ پلټنې لوی رئیس او ورسره مل پلاوي بامیان ولایت ته سفر وکړ

د مالیې وزارت د کورنۍ پلټنې لوی رئیس انجنیر عبداللطیف خالد او ورسره مل پلاوي د چارو د ارزوني او د پلټنې سپارښتنو د تطبیق د تعقیب په موخه بامیانو ولایت ته رسمي سفر وکړ.
د کورنۍ پلټنې لوی ریاست پلاوي د دغه سفر په لړ کې د بامیانو ولایت له مستوفیت او همدارنګه د دغې اداري له اړوندو دفترونو څخه په جلا توګه لیدنه وکړه او هم ئې د یاد ولایت له مستوفي سره ئې پر اړوندو موضوعاتو بحث وکړ.
د کورنۍ پلټنې لوی رئیس د یوې غونډې په ترڅ کې د مستوفیت کارکوونکو ته د پلټنې پر اهمیت خبري وکړې او ټینګار ئې وکړ، چې د پلټونکو له لوري ورکړل سوي اصلاحي سپارښتني پر ټاکلي وخت تطبیق او راپور ئې له دغه ریاست سره شریک کړي.
وروسته د کورنۍ پلټنې پلاوي په نمونوي ډول ځیني دوسیې وکتلې او په تړاو ئې له کارکوونکو سره تخنیکي سلا مشورې شریکي کړې.
په پای کې د کورنۍ پلټنې لوی رئیس د یاد مستوفیت د مسؤلینو او کارکوونکو ستونزي او غوښتني واورېدې او ژمنه ئې وکړه، چې د حل په موخه به ئې د وزارت له مشرتابه سره شریکي کړي.



# د مالیې وزارت د دولتي املاکو لوی ریاست له پاره نوی رئیس معرفي سو

د مالیې وزارت په وړاندیز او د ریاست الوزراء عالي مقام د حکم پر بنسټ، محترم عبدالقدیر حقاني د دولتي املاکو د لوی رئیس په توګه د دغه وزارت د اداري معین، محترم مولوي دوست محمد مخلص له لوري د یاد ریاست کارکوونکو ته ور وپېژندل سو.
محترم عبدالقدیر حقاني له دې وړاندي د کابل ښاروالۍ د دفتر لوی رئیس په توګه دنده ترسره کړې، چې په اداري برخه کې د ښې کاري تجربې څخه برخمن دئ.
د یادوني وړ ده، چې د مالیې وزارت رهبري تل هڅه کوي، چې د چارو د لا ښه پرمختګ او خلکو ته پر وخت د خدمتونو د وړاندي کولو په موخه په اړوندو ادارو کې وړ، متعهد او په کار پوه اشخاص په دندو وګوماري.



# برای اشتراک کنندگان برنامه آموزشی پروسه تدارکات تصدیقنامه اعطاء گردید

ریاست امور کارکنان وزارت مالیه برای (۵۰) تن مدیران تدارکات مستوفیت ها و گمرکات که در برنامه آموزشی (۱۰) روزه پروسه تدارکات اشتراک کرده بودند، تصدیقنامه اعطاء نمود.
در نشستی که به همین مناسبت در سالون کنفرانس های اکادمی ملی عواید و گمرکات دایر گردید، مفتی نیاز محمد منصور آمر استخدام ریاست امور کارکنان، مولوی دوست محمد ثاقب آمر انسجام و انکشاف عواید ولایات شیخ محمد مبین امینی مدرس ریاست دعوت و ارشاد و بلال احمد احدی آمر اکادمی ملی عواید و گمرکات اشتراک داشتند.
آمر استخدام در سخنان اختتامیه این برنامه گفت، برای پیشبرد امور نظام هم به افراد مسلکی و هم به ابزار نیاز است. هدف از این برنامه هم پیشبرد امور محوله به وجه احسن آن می باشد. موضوعات که در این برنامه ها تدریس می گردد، در جلوگیری از فساد، کم کاری و تأمین شفافیت کمک نموده باعث تقویت این نظام اسلامی می شود. شما مکلف هستید آنچه را آموخته اید عملی نموده و به دیگران نیز انتقال دهید.
مدرس ریاست دعوت و ارشاد طی سخنانش گفت، ریاست دعوت و ارشاد در هر اداره دولتی وجود دارد و وظیفه آن تطبیق احکام اسلامی است. شما نیز مسئولیت دارید بخاطر تأمین عدالت و جلوگیری از ظلم، امر به معروف و نهی از منکر کنید. وی همچنان از اشتراک کنندگان خواست تا وظایف سپرده شده را با اخلاص و نیت صاف به پیش برده و با مردم رفتار نیک داشته باشند.
گفتنی است که در این برنامه از طرف تریناران مجرب قانون، طرزالعمل و پروسه تدارکات به اشتراک کنندگان تشریح گردید.



# د ګمرکونو لوی ریاست د حمایت او پراختیا ریاست له پاره نوی رئیس معرفي سو

ښاغلی مسلم خاکسار، چې د مالیې وزارت په وړاندیز او د ا.ا.ا د ریاست الوزراء عالي مقام په منظورۍ د ګمرکونو لوی ریاست د حمایت او پراختیا نوی رئیس ټاکل سوی وو، د ګمرکونو او عوایدو معین الحاج مفتي عبدالمتین سعید له لوري د دغه ریاست کارکوونکو ته ور وپېژندل سو.
په دې پېژند غونډه کي، چې د ګمرکونو او عوایدو لویو ریاستونو یو شمېر مرستیالانو او رئیسانو ګډون کړی وو، د ګمرکونو او عوایدو معین د یاد ریاست د پخواني رئیس کړني وستایلې او نوي ګومارل سوي رئیس ته ئې په وسپارل سویو چارو کې د بریالیتوب هیله وکړه. نوموړي د ګمرکونو لوی ریاست کارکوونکو ته سپارښتنه وکړه، چې له نوي ګومارل سوي رئیس سره په چارو کې پوره همکاري او همغږي وکړي.
د یادوني وړ ده، چې ښاغلی خاکسار په ګمرکي چارو کې پوره کاري تجربه لري او له دې وړاندي ئې د کندهار ولایت د سپین بولدک ګمرک د آمر په توګه دنده تر سره کوله.



## د مالیې وزارت او نور تشخیصیه کلینیک تر منځ په (۵۰) سلنه تخفیف د طبي معایناتو هوکړه لیک لاسلیک سو



د مالیې وزارت د کارکوونکو چارو ریاست، له کارکوونکو سره د اړیکو آمریت د نور راډیولوژي له تشخیصیه کلینیک سره، په (۵۰) سلنه تخفیف د (سیټي سکن او ام آر آی) تشخیصیه معایناتو د ترسره کولو هوکړه لیک د کارکوونکو چارو د رئیس په شتون کي لاسلیک کړ.
د دغه هوکړه لیک له مخي به د نور راډیولوژي تشخیصیه کلینیک د مالیې وزارت د کارکوونکو، د کورنۍ د غړو او نیږدې دوستانو پورته ذکر سوي تشخیصیه معاینې په (۵۰) سلنه تخفیف سره ترسره کوي.
د مالیې وزارت هغه کارکوونکي، د دوی د کورنۍ غړي او نیږدې خپلوان، چې د یادو تشخیصیه معایناتو ترسره کولو هوډ لري، له کارکوونکو سره د اړیکو آمریت له لوري به د نور راډیولوژي تشخیصیه کلینیک ته معرفي او له دغه تخفیف څخه به برخمن کېږي.
د لا ډېرو معلوماتو له پاره له دې شمېرې سره اړیکه ټینګه کړئ (۰۲۰۲۹۲٤۳۵۷).

## تېره اوونۍ د هیواد په بېلابېلو ولایتونو کي په زیاته اندازه قاچاقي توکي نیول سوي دي



د مالیې وزارت د ګمرکونو لوی ریاست د ګرځنده څارني کارکوونکو تېره اوونۍ د نیمروز، کندهار، فراه، هلمند او ننګرهار ولایتونو په بېلابېلو سیمو کي په زیاته اندازه قاچاقي توکي نیولي دي، چې قاچاق کوونکو غوښتل په پټه ئې افغانستان ته راوړي.
په نیول سویو توکو کي (۲۲،۷) ټنه چاکلېټ، (۱۱،۱) ټنه درمل، (۱۳) ټنه ګوړه، (۱۰،۸) ټنه مالګه، (۵) ټنه خام نخود، (۱۱۲۵) کیلو ګرامه وچې شیدې، (۱۰۰۰) کیلو ګرامه یوځل مصرف لوښي، (۹۵۱) کیلو ګرامه تشي بوجۍ، (۵۵۰) کیلو ګرامه تنباکو، (٦٤۰) کیلو ګرامه کاچوغي، (۳۱۰) کیلو ګرامه رُب، (۲٤۰) کیلو ګرامه رخت باب، (۱۱۰) کیلو ګرامه بنجاره او (۸۰) کیلو ګرامه رانجه شامل دي.
نیول سوي توکي او تورن کسان د نورو اجراآتو لپاره اړوندو ګمرکونو ته سپارل سوي دي.
د یادوني وړ ده، چې د مالیې وزارت د ګرځنده څارني کارکوونکي په ټول هیواد کي ګرځنده څارني کوي او هیچا ته اجازه نه ورکوي، چې ممنوعه او قاچاقي توکي ولېږدوي.

# کاربرد SWOT Analysis در مدیریت

عبدالبصیر عمر شاه خیل
محقق دکتورای اقتصاد و تجارت بین الملل

شتمنی
SHTAMANI
اوونیزه

تحلیل SWOT یکی از ابزارهای پرکاربرد در مدیریت و به ویژه بازاریابی است. تحلیل سوات «SWOT Analysis» یکی از استراتیژی است که به کار و بار ها کمک می کند، تا با تشخیص نقاط ضعف، قوت، فرصت و تهدید های اداری خود برای رسیدن به موفقیت، راهکارهای هوشمندانه ای اتخاذ کنند. سوات (SWOT) مخفف جمله قوتها (Strengths)، ضعف ها (Weaknesses)، فرصت ها (Opportunities) و تهدید ها (Threats) است. فن تحلیل سوات بسیار کاربردی است و بسیاری از شرکت های موفق این تحلیل را برای بهبود عملکردشان انجام میدهند. هر فرد، سازمان و نظامی می تواند، از تحلیل SWOT استفاده کند. (منصوری فر, ۱٤۰۳)




**زمان کاربرد تحلیل SWOT:**

۱. در ابتدای طراحی سیستم.
۲. در زمان تغییر استراتیژی سازمان.
۳. در وقت مواجهه با تهدید ها.
٤. باید هر ٦ یا ۱۲ ماه یک بار تحلیل سوات را از نو انجام داد که می تواند به پیشرفت سازمان کمک کند.

**مزایای استفاده از تحلیل SWOT:**

۱. با یافتن دقیق عوامل بیرونی و درونی یک سازمان، منابع را هماهنگ و بهره گیری از قابلیت های سازمان را افزایش می دهد.
۲. با شناخت گذشته و حال، دید کلی نسبت به چشم انداز آینده میدهد.
۳. به اتخاذ یک استراتیژی خوب برای رسیدن به اهداف سازمان کمک میکند.
٤. می تواند برای متمایز شدن از رقبا مورد استفاده قرار گیرد.
۵. با شناسایی نقاط قوت سازمان برای بیرون رفت از چالش ها کاربرد دارد.
٦. با شناخت نقاط ضعف سازمان، برای از بین بردن آنها کمک میکند.
۷. با شناخت فرصت ها تصمیم میگیرد و برای موفقیت استفاده می کند.
۸. با شناسایی تهدید ها می توان برای هر تهدید راهکاری اندیشید و به نفع خود از آن بهره برد.

**معایب تحلیل SWOT:**

۱. امکان دارد برخی مدیران بر روی داشته ها و نقاط قوت خود تمرکز داشته دچار خود بزرگ بینی شوند.
۲. ممکن است برخی مدیران فقط به ضعف های خود فکر کنند که به کلی اعتماد به نفس آنها را از بین ببرد.

**طرز استفاده از تحلیل SWOT:**

۱. نخست برای طراحی ماتریس سوات هر کدام از نقاط قوت، ضعف، فرصت و تهدید را مشخص کنید.
۲. تمام افراد تاثیر گذار در سازمان را در یافتن نقاط ضعف و قوت بکار بگیرید.
۳. روی احساس یا فقط دیدگاه شخصی خودتان متمرکز نباشید.
٤. باید مقایسه هایی نسبت به رقبای شما صورت گیرد.

**نقاط قوت و ضعف:**

به طور کلی منابعی چون؛ مالی، ارتباطی، بازاریابی، فیزیکی، انسانی، حقوقی و غیره به عنوان نقاط قوت و ضعف یک شرکت بوده میتوانند. با مشخص شدن نقاط قوت، یافتن نقاط ضعف آسان میشود. توجه داشته باشید که هر کمبودی نشان از ضعف نیست. باید نقاط ضعف را نسبت به ارزش و جایگاه آنها مشخص کنید. امکان دارد مواردی که شما به عنوان ضعف تصور می کنید، رقبای شما نیز به همان اندازه داشته باشند. برای پی بردن به نقاط ضعف، می توانید چنین سوالاتی از خود بپرسید:

۱. چه عواملی باعث عقب ماندن ما از رقبا شده اند؟
۲. چه چیزهایی باعث زیان مالی سازمان می شوند؟
۳. مراجعین چه ضعف هایی در ما می بینند؟
٤. کدام بخش ها از مجموعه درست عمل نمی کنند؟

**فرصت ها و تهدید ها:**

برای یافتن فرصت ها باید به دقت دو مرحله پیش را بررسی کنید و ببینید نقاط قوت شما چه فرصت هایی را برای شما فراهم می آورد. به دقت وقایع که در اطرافتان در حال روی دادن هستند، را بررسی کنید و از آنها فرصت بیافرینید. همچنین مسائل سیاسی، فرهنگی، اجتماعی، ورزشی و غیره هر کدام می توانند، تبدیل به فرصت شوند. تمام عواملی که می توانند در موفقیت شما وقفه ایجاد کنند، در دسته تهدیدها قرار می گیرند. این سوال را از خود بپرسید که چه چیزهایی امکان دارد فروش ما را کم کند، تولیدات ما را کم کند، سود ما را کم کند، مشتری ما را کم کند و غیره. مواردی مثل وضعیت بازار، وضعیت اقتصادی، وضعیت سیاسی می توانند به نوعی تهدید تلقی شوند.

**ماتریس سوات «SWOT matrix» چیست؟**

ماتریس تحلیل سوات یک جدول چهار خانه ای است که در آن نقاط قوت در مقابل فرصت ها قرار می گیرد و نقاط ضعف در مقابل تهدید ها هستند. در هر خانه از این جدول لازم است، تا موارد مربوط به آن قرار گیرد و بتواند به این ترتیب چهار استراتیژی از دل این ماتریس بیرون بیاید.

**استراتیژی های تحلیل سوات:**

**الف: استراتیژی (SO, Strength-Opportunity):**

این استراتیژی بیان می کند، که از نقاط قوت خود استفاده کنید و از فرصت ها بهره ببرید.

**ب: استراتیژی (WO, Weakness-Opportunity):**

این استراتیژی به این اشاره دارد که می توان از هر فرصتی برای از بین بردن نقاط ضعف نیز استفاده کرد.

**ج: استراتیژی (WT, Weakness-Threat):**

این استراتیژی حالت دفاعی را در مقابل تهدید ها دارد. بیشتر برای زمانی کاربرد دارد، که امکان ورشکستگی وجود دارد و تهدید ها و ضعف ها بیشتر است.

**د: استراتیژی (ST, Strength-Threat):**

استراتژی ST می گوید که به کمک نقاط قوت خود، هر نوع تهدیدی را خنثی کنید، که این استراتیژی می تواند در بسیاری از مواقع به کار آید.

**نتیجه گیری:**

تحلیل SWOT یکی از صدها روشی است، که در مدیریت استراتیژیک به ویژه بازاریابی به کار گرفته می شود. این شیوه تحلیل و بررسی به کسب و کارها کمک می کند، تا با شناخت چهار عنصر: نقاط ضعف، قوت، فرصت و تهدید ها یک شناخت کلی نسبت به شرایط موجود، در درون و بیرون هر سازمان به دست آید.

**منابع:**

منصوری فر, م. (۱٤۰۳). آشنایی با تحلیل SWOT و کاربرد آن در پیشرفت کسبوکارها. Retrieved from مدیر وب: https://modireweb.com/what-is-swot-analysis/


# اعلانات داوطلبی

## د داوطلبی خبرتیا

ریاست عمومی املاک دولتی وزارت مالیه دوکاکین نظیف مارکیت واقع کوته سنگی مربوط ناحیه پنجم شاروالی کابل را برای مدت ( ۱ ) سال به شکل آفر سربسته طور جداگانه به اعلان داوطلبی می سپارد.

۱.دوکان نمبر B۱۰۱-۱۰۲-۱۰۳ به مساحت ۳٦ مترمربع واقع نظیف مارکیت کوته سنگی به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۸۰۰۰) افغانی.
۲. دوکان نمبر B۱۰٤ به مساحت۱۲مترمربع واقع نظیف مارکیت کوته سنگی به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (٤۰۰۰) افغانی.
۳. دوکان نمبر B۱۰۵ به مساحت ۱۲مترمربع واقع نظیف مارکیت کوته سنگی به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (٤۰۰۰) افغانی.
٤.دوکان نمبرB-۱۰٦به مساحت ۱۲مترمربع واقع نظیف مارکیت کوته سنگی به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ ( ٤۰۰۰ ) افغانی.
۵. دوکان نمبر B۱۰۷ به مساحت۱۲مترمربع واقع نظیف مارکیت کوته سنگی به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (٤۰۰۰) افغانی.
٦. دوکان نمبر B۱۰۸-۱۰۹به مساحت۲٤ مترمربع واقع نظیف مارکیت کوته سنگی به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۸۰۰۰) افغانی.
۷. دوکان نمبر B۱۱۰ به مساحت۱۲ مترمربع واقع نظیف مارکیت کوته سنگی به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۳۵۰۰) افغانی.
۸. دوکان نمبر B۱۱۱-۱۱۲ به مساحت۲٤ مترمربع واقع نظیف مارکیت کوته سنگی به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (٦۰۰۰) افغانی.
۹. دوکان نمبرB۱۱۳ به مساحت۱۲ مترمربع واقع نظیف مارکیت کوته سنگی به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۳۵۰۰) افغانی.

کوردینات(جی.پی.اس نمبر) ٦۹,۱۱۷٤٦ ۳٤,۵۱۵۲۷۲
اشخاص حقیقی و حکمی که خواهان به کرایه گرفتن جایداد های فوق الذکر باشند، میتوانند درخواست های شان را بعد از تاریخ ۲۹ / قوس / ۱۴۰۳ الی۱۹/ جدی/ ۱۴۰۳) به ریاست عمومی املاک دولتی تسلیم نموده شرطنامه را اخذ نمایند.
آدرس: تعمیر۱۴ منزله سینما پامیر، منزل۵ ، مدیریت عمومی ارزیابی قرار داد های مرکز
شماره های تماس: (۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷-۰۲۰۲۹۲٤٦۲٤).
تاریخ مجلس داوطلبی : ۲۰ / جدی / ۱۴۰۳ به ساعت(۱۰:۰۰) قبل از ظهر برگزار میگردد.

## اعلان داوطلبی

مدیریت عمومي املاک دولتی مستوفیت ولایت هرات (۲٦) باب غرفه واقع داخل گمرک اسلام قلعه ملکیت ریاست محترم گمرک ولایت هرات را بر اساس نرخ کرایه سابق از طریق داوطلبی و آفرگشایی مطابق به طرزالعمل قرارداد های املاک دولتی به اجاره دهد.

۱- ساحه یک باب غرفه موازی ۱۲ متر مربع با کرایه ماهوار مبلغ (۳۰۰۰) افغانی.
۲- ساحه یک باب کانکس خالی موازی ۱۵ متر مربع با کرایه ماهوار مبلغ (۲۰۰۰) افغانی.
۳- ساحه یک باب غرفه موازی ۳۳,۱۲ متر مربع با کرایه ماهوار مبلغ (۳۰۰۰) افغانی.
٤- ساحه یک باب غرفه موازی ۱۸,۵۰٦۷ متر مربع با کرایه ماهوار مبلغ (۷۰۰) افغانی.
۵- ساحه یک باب غرفه موازی ۱۷,۱۵ متر مربع با کرایه ماهوار مبلغ (۱۰۰۰) افغانی.
٦- ساحه یک باب غرفه موازی ۸,۹٤ متر مربع با کرایه ماهوار مبلغ (۱۰۰۰) افغانی.
۷- ساحه یک باب غرفه موازی ۱٤,٤ متر مربع با کرایه ماهوار مبلغ (۲۵۰۰) افغانی.
۸- ساحه یک باب غرفه موازی ٦ متر مربع با کرایه ماهوار مبلغ (٤۵۰) افغانی.
۹- ساحه یک باب غرفه موازی ۱۵ متر مربع با کرایه ماهوار مبلغ (۳۰۰۰) افغانی.
۱۰- ساحه یک باب غرفه موازی ٦ متر مربع با کرایه ماهوار مبلغ (۱۰۰۰) افغانی.
۱۱- ساحه یک باب غرفه موازی ٦ متر مربع با کرایه ماهوار مبلغ (۵۰۰) افغانی.
۱۲- ساحه یکباب غرفه موازی ٦ متر مربع با کرایه ماهوار مبلغ (۷۰۰) افغانی.
۱۳- ساحه یک باب غرفه موازی ٦ متر مربع با کرایه ماهوار مبلغ (۷۰۰) افغانی.
۱٤- ساحه یک باب غرفه موازی ٤ متر مربع با کرایه ماهوار مبلغ (۷۰۰) افغانی.
۱۵- ساحه یک باب غرفه موازی ٦ متر مربع با کرایه ماهوار مبلغ (۵۰۰) افغانی.
۱٦- ساحه یک باب غرفه موازی ٦ متر مربع با کرایه ماهوار مبلغ (۵۰۰) افغانی.
۱۷- ساحه یک باب غرفه موازی ٦ متر مربع با کرایه ماهوار مبلغ (٦۰۰) افغانی.
۱۸- ساحه یک باب غرفه موازی ٦ متر مربع با کرایه ماهوار مبلغ (۱۰۰۰) افغانی.
۱۹- ساحه یک باب غرفه موازی ٦ متر مربع با کرایه ماهوار مبلغ (۵۰۰) افغانی.
۲۰- ساحه یک باب غرفه موازی ٦ متر مربع با کرایه ماهوار مبلغ (۷۰۰) افغانی.
۲۱- ساحه یک باب غرفه موازی ٦ متر مربع با کرایه ماهوار مبلغ (۱۰۰۰) افغانی.
۲۲- ساحه یک باب غرفه موازی ٦ متر مربع با کرایه ماهوار مبلغ (۷۰۰) افغانی.
۲۳- ساحه یک باب غرفه موازی ٤ متر مربع با کرایه ماهوار مبلغ (۳۵۰) افغانی.
۲٤- ساحه یک باب غرفه موازی ۸,۹٤ متر مربع با کرایه ماهوار مبلغ (۷۰۰) افغانی.
۲۵- ساحه یک باب غرفه موازی ٦ متر مربع با کرایه ماهوار مبلغ (۱۰۰۰) افغانی.
۲٦- ساحه یک باب غرفه موازی ۱۵ متر مربع با کرایه ماهوار مبلغ (۵۰۰۰) افغانی.

بناً اشخاص حقیقی و حکمی که خواهان به کرایه گرفتن دکان های فوق باشند درخواست های خویش را برای مدت (۲۱) یوم اعتبار از تاریخ ۱ جدی سال ۱٤۰۳ الی ۲۱ جدی سال ۱٤۰۳ به مدیریت عمومی املاک دولتی مستوفیت ولایت هرات سپرده، شرطنامه را مطالعه، تامینات نقداً اخذ میگردد.} تاریخ مجلس داوطلبی و آفر گشایی ۲۲ جدی سال ۱٤۰۳ به ساعت ۲ بعد از ظهر برگزار میگردد.
آدرس : مستوفیت ولایت هرات مدیریت عمومی املاک دولتی.
شماره تماس: ۰۷۹٤۳۳۸۹۸۹

SHTAMANI
شتمني
اوونیزه

د امتیاز څښتن: د مالیې وزارت
مسؤل مدیر: احمد ولي حقمل
مرستیال: شمس الدین عاطف
د کتنپلاوي تر نظر لاندي

ویبسایټ: mof.gov.af
اېکس پاڼه: Afghanistan mof
یوټیوب: afghanistan mof
شمېره : ۰۲۰۲۹۲٤٤٤۰(+)









## روسیه او اُزبکستان د 'ترانس - افغان' اورګاډي د پروژې په لومړنیو چارو پسې دي




- د "ټرانس - افغان" اورګاډي پټلۍ د سیمه ییز اتصال د پیاوړتیا او د نویو اقتصادي فرصتونو په ایجاد کې لومړیتوب لري.
- د دې اورګاډي پټلۍ د لومړنیو چارو ګډ کار روان دئ.
- ښاغلي عبدالسلام حنفي صاحب له عبدالله اریپوف سره په دې تړاو خبري کړي دي.
- روسیه او اُزبکستان د کسپین/ خزر سمندرګي له لاري د نویو لارو په ګډون د نړیوالو ټرانسپورټي دهلېزونو پراختیا ته ځانګړې پاملرنه کوي.

د دریا – Daryo په نوم ازبکۍ رسنۍ لیکي، چې روسیه او ازبکستان د افغانستان د اورګاډي د پروژې په لومړنیو چارو پسې دي، تر څو کارونو ته ئې پراختیا ورکړي. دریا دا خبر د TASS په نوم له روسي خبري اژانس څخه رانقلوي، چې وایي دا اعلان د روسیې د لومړي وزیر لومړي مرستیال ډېنیس منتوروف له خوا د دواړو هیوادونو ترمنځ د همکارۍ بین الحکومتي کمېسیون د (۲۵.) غونډې په ترڅ کې وکړ. یاد مرستیال د ټرانس - افغان اورګاډي پټلۍ د سیمه ییز اتصال د پیاوړتیا او د نوو اقتصادي فرصتونو په ایجاد کې د لومړیتوب په معنی یادوي. ډېنیس زیاتوي: "موږ د کسپین/ خزر سمندرګي له لاري د نویو لارو په ګډون د نړیوالو ټرانسپورټي دهلېزونو پراختیا ته ځانګړې پاملرنه کوو. د ټرانس - افغان اورګاډي د جوړولو له پاره د امکاناتو د مطالعې یا لومړنیو چارو په تړاو ګډ کار روان دئ."

راپور د دې پروژې د «شاګۍ او پرمختګ» تر سرلیک لاندي کاږي، چې په (فیبروري/ ۲۰۲۱)ز کې ازبکستان، افغانستان او پاکستان د «ترمِز ـ مزار شریف ـ کابل – پېښور» اورګاډي د جوړولو له پاره د سړک نقشه لاسلیک کړه. وایي د پروژې اټکل سوی لګښت نږدې (۵) میلیارده امریکایي ډالر دي. د راپور د معلوماتو په اساس، تمه کېږي، چې د اورګاډي یاده پټلۍ به په کال کې د (۲۰) میلیونه ټنه کارګو لېږد اداره کړي، چې دا اروپا، روسیه، مرکزي اسیا، سوېلي اسیا او د سوېل ختیځې اسیا هیوادونو سره وصلوي.

دریا لیکي، چې اوسمهال د رېل پټلۍ له پاره د ډیزاین کار روان دئ؛ ځکه چې د پروژې شریکان د جزئیاتو په نهایي کولو باندي کار کوي. د پروژې موخه په داسي ټکو رانقلوي: «د اقتصادي ادغام ملاتړ، د سیمو ترمنځ سوداګریزو او ټرانسپورټي اړیکو ته وده ورکول دي.»

ورپسې زیاتوي، چې د افغانستان اسلامي امارت لومړي وزیر اداري مرستیال ښاغلي عبدالسلام حنفي صاحب هم ازبکستان ته سفر وکړ او د ازبکستان له لومړي وزیر عبدالله اریپوف او ازبکي چارواکو سره ئې پر دې پروژې بحث وکړ. دا راپور وایي، چې د افغانستان د ویاند مرستیال ښاغلي حمدالله فطرت په سیمه کي د سوداګرۍ او ټرانزیټ د پراختیا له پاره د دې پروژې ارزښت هم بیان کړی دئ. اُزبکي چارواکو په افغانستان کي د پانګوني د اسانتیاوو په برخه کي په ځانګړې توګه د کانونو په برخه کي د اُزبکستان ژمنتیا روښانه کړه او د اقتصادي اړیکو د پیاوړتیا له پاره ئې د رېل پټلۍ پر ظرفیت ټینګار وکړ.

## General Directorate of Customs Installs High-tonnage Weighing Scale Worth 15 mln Afs at Customs of Balkh, Aqina, Kunduz.

The General Directorate of Customs of MoF has installed two high-tonnage scales to determine the weight of imported and exported goods at Naib Abad Customs of Balkh Province, and one for determination of weight of imported goods was at Aqina Customs, worth 13.6 million Afs. The weighing Scales, which have a length of 22m and a width of 3m, will avoid excess weight and loss of national revenues.

Additionally, another high-tonnage weighing scale worth 1.4 million Afs was handed over for putting into operation to Kunduz Customs for the imported goods. It is worth noting that the cost of construction and repairing of the said weighing scale was paid from the development budget of the Ministry of Finance, and the project was accomplished by Afghan corporations.

## MoF Launches 'Archives Construction Projects' Worth 19 mln Afs for Nimroz, Spinboldak Customs

The General Directorate of Customs of MoF started the projects to build archives at the customs of 'Nimroz and Spinboldak' worth 19.2 million Afs. The cost of these projects is paid from the development budget of MoF, which will be completed within the next 10 months and will facilitate the safekeeping of customs documents, the General Directorate of Customs assured.

Notably, many customs projects have been implemented by the Ministry of Finance in order to modernize the customs of Afghanistan, create facilities for traders and further develop business in the country, and some of the projects are being in construction process as Mof is committed for the completion.


**د شکایتونو اورېدلو خپلواک آمریت ستاسو ستونزو او شکایتونو ته رسېدنه کوي**

هر هیوادوال، چې د مالیې وزارت د اړوند چارو په تړاو ستونزه یا شکایت ولري، کولای سي، چې د دغه وزارت د شکایتونو اورېدلو له خپلواک آمریت سره ئې په حضوري بڼه او یا د لاندي ادرسونو له لاري شریک کړي.
ټلیفون او وټس اپ شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤۲۳۳
/۰۲۰۲۹۲٤۱۹۰/ ۰۷۴۵۷٦۵۷۵٦ (+۹۳)
برېښنالیک: officialcomplaints@mof.gov.af





**د مالیې وزارت د ګمرکونو لوی ریاست تل ستاسو په خدمت کي دئ!**

که تاسو د ګمرکونو په هکله هر ډول معلوماتو ته اړتیا لرئ او د کومې ستونزې حل او یا شکایت را رسول غواړئ؛ نو مهرباني وکړئ له موږ سره په لاندي شمېره اړیکه ونیسئ!
اړیکه: ۲۲۱

**ریاست عمومی ګمرکات وزارت مالیه همېشه در خدمت شماست!**

اگر شما در مورد گمرکات به هر نوع معلومات نیاز دارید و یا میخواهید مشکل تان حل و شکایت تانرا به سمع ما برسانید، میتوانید به شماره ذیل با ما در تماس شوید!
تماس: ۲۲۱